The Lighthouse Journal of Literature & Linguistics, Vol. 3, Issue 01, Winter 2024, pp. 26-43

# ساجدافغانؔ، هائیکو کښې د منفي مذهبي کردارونو د طنز تجزیاتي څېړنه

عبدالنعیم


## ABSTRACT

*In Pashto literature, Sajid Afghan is very famous for writing haiku. It is the most popular genera of Japanese poetry. Sajid Afghan's contributions to Pashto literature in the form of two haiku books namely "Sharghashy", and "Pasham". The main object or theme of these books is the critical analysis of satirical religious characters. The research at hand is the analysis of Sajid Afghan's Haiku for satirical religious characters.*


**Keywords:** *Haiku, Sajid Afghan, Satire*

د جدید ادبي صنفونو د راتګ سره د پښتو ادب اکثره ځوان فکره لیکوالانو دې نوي رجحاناتو ته غاړه ورکړې ده ـ په دغه جدید صنفونو کښې یوه جاپانۍ هائیکوهم ده ـکومه چې د پښتنوشاعرانو پښتو ادب لمنې ته د ډېرو مخالفونو سره رادننه کړې ده ـ او تر دې دمه ئې په دې صنف کښې خپلو تخلیقونو د پاره ډېر مشود او زیار کړے دے ـ په دغه لیکوالو کښې یوه نامه ښاغلي د ساجدافغانؔ هم ده،چا چې د هائېکو په صنف کښې د طنز و مزاح په لاره پښتو ادب ته لویه ادبي پنګه وربخښلې ده ـ

## د ساجدافغان ؔپېژندګلو:

پښتو هائېکو لیکونکو کښې یو نوم د ساجد افغان ؔهم دے ـ څوک چې د پاکستان ،خېبر پښتونخوا،کوز دیر په تحصیل ادینزۍ ،یونین کونسل خادګزو (نګرام) کلي کښې په ۱۳،مارچ۱۹۷۸ء کښې د فردوس خان په کور کښې پېدا شوے دے ـ چې په خټه سونې خیل اصیل خیل، اوتمانخیل دے ـ

> "محمدساجدچې پۀ ادبي دنیا کښې د ساجدافغانؔ پۀ
> نوم پېژندے شي ـ د مارچ پۀ اوومه نېټه کال نولس
> سوه اتۀ اویایم کښي د کوز دیر د خادګزو پۀ کلي
> نګرام
> کښې د اتمانخېلو پۀ قبیله کښې پېدا شوے دے"[1]

د دوئې مشران د د مقامي جګړو په صورت کښې پخوا د باجوړ د سیمې برنګ نه دلته راغلي او اباد شوي دي ـ

ساجدافغانؔ تعلیمي لړۍ تر دولسم پورې کړې ده ـ د کار روزګار په سلسله کښې ئې علاقه د تجارت سره د زلمیتوبه ده ـ په خپلې علاقې کښې یو ښۀ سیاسي او سماجي کارکن هم پاتې دے ـ د بده مرغه د ژوند څه کلونه ئې د افغانستان په جېل کښې هم تېر کړي دي ـ ساجد افغانؔ یو لوړ فکره ځوان غزلګوشاعراو هائیکو نګار دے ـ تر دې دمه ئې د هائېکو دوه ټولګې د ،"شرغشي"[1]، او ،"پشم"[2]، په نومونو چاپ اثار دي ـ ددې نه سربېره د نثر یو کتاب ،"د پېریانو ډولۍ"، په نوم هم چاپ دے ـ او یوه ناچاپه " شعري کلام"[3] مجموعه هم لري ـ د دې سره سره" د مرګ په خله

**Corresponding Author's Email: shariqaman43@gmail.com**

Manuscript Received: Oct 25, 2024
Manuscript Accepted: 14 Nov, 2024

کښې د خندا خبرې"[4]، "لنډې افسانې"[5] ،"د قېد و بند نثري لیکنې"[6] هم د لیکوال ناچاپ ادبي اثار دي ـ ساجدافغانؒ طنز د مېدان هغه شهسوار دے چې هائېکو ئې زین کړې سورلی ده ـ ساجدافغانؒ طنز خپل کورني تجربات لري ـ او خپل تخیل یې د طنز په لاره د هائېکو په شا بار کړے، د منزل په لور تاند او ګړندې ګامونه اخلي ـ او خپل فکري صلاحیتونه د طنز په شکل کښې د پښتون اولس د تیارې نه رڼ سباؤن ته راویستلو د پاره پکار راولي ـ

هائیکو پېژندګلو:

نوولسمې صدۍ د نړۍ په مخ د ژوند په بېلا بېلو اړخونو کښې ډېربدلون او تغیرات را پېدا کړل ـ کۀ یو اړخ تۀ ئې شائنسي او صنعتي انقلاب ته دوام ورکړو ـ نو بل اړخ ته د ګلوبلائزیشن (globalization)لۀ وجهې نړیوال قربت او نزدیکت ته هم لاره هواره کړه ـ د ګلوبلائزیشن (globalization) په سوب معاشي، اقتصادي ،تمدني،تهذیبي او داسې نور، نوي او جدید اثرات پۀ ټولنه کښې سر اوهولو،او دغسې انساني ژوند کښې د سائنس او ټیکنالوجۍ پۀ وجه پۀ ډېره تندۍ سره نوي نوي بدلونونه پیدا شول ـ کوم چې په نړیوال ادبیاتو ته هم د دې څرک او اثر داخل شو ـ ګڼ ادبي صنفونه دي چې د نړۍ د مختلفو ادبیاتو نه نورو ته منتقل شوي دي ـ پۀ دې کښې د جاپان د شاعرۍ یو مشهور صنف هائیکو هم د جاپان نه د نړۍ نورو ادبیاتو ته نقل مکاني کړې ده ـ دې کښې پښتو ادب هم دے چې هائیکو ته ئې پۀ رڼ تندي هر کلے کړے دے ـ

> "د هائیکو اولنے سفرد جاپان نه انګلېنډ ته ؤ ـ د انګلېنډ نه فرانس،سپېن،برازیل او هندوستان وغېره ته خوره شوه ـ هائیکو شاعرۍ یو بېن الاقوامي صنف دے ـ هائیکو د اردو په لاره پښتو ادب ته رارسیدلې ده "[1]

هائیکو د جاپان د شعري ادب یو مشهور صنف دے ـ "هائیکو معنیٰ ده مختصر کلام"[7]چې پۀ دریو مصرعو باندې مشتمل وي ـ کوم چې د (۵،۷،۵) چپو پۀ وزن کښې لیکلے شي ـ یعنې وړومبۍ او دریمه مصرعه پنځه او دویمه مصرعه اووه چپې وي ـ دې کښې د موسم او فطرت ذکر کولے شي ـ

“A haiku is short three lines poem that uses sensory Language to capture a feelings image. Haiku poetry was inspired by Japanese by nature”.[8]

ژباړه:-(هائېکو د دریو مصرعو یو لنډ نظم وي ـ چې کوم کښې حسي ژبه د یو احساس یا انځور د اخیستو دپاره پکارولے شي ـ دا اکثر د فطرت نه اثر اخیستلو شاعري وي ـ هائیکو د یو احساس خیالي تصویر کشي کوي او د فطرتي احساس یو تصویر جوړوي) ـ

هائیکو خپل یو مخصوص قالب او چوکاټ لري ـ پۀ ځان کښې داسې خوبي لرې چې د شاعرۍ د نورو صنفنو نه ځانګړتیا لري ـ پۀ دې کښې د موسمونو ذکر وي ـ او د فطرت پۀ حقله به پکښې موضوعات بیان شوي وي ـ دحساس انځورګري وي پکښې ـ او ژبه پکښې حسي پکارولے شي ـ

"هائیکو یو لنډ او مکمل ذهني شعر دے ـ او معمولاً سپږ ځانګړنې لري چې لۀ نورو شعرونو ئې بېلوي ـ پۀ ښۀ هائیکو کښې باید موسمي اصطلاحات راوارل شوې وي ځکه چې هائیکو ورسره نږیواله کیږي ـ او د انسان او د هغه د چاپېریال او طبیعت تر منځ اړیکه پیاوړي کوي ـ ورسره باید هائیکو روښانه ذهني (ایمیج) ولري ـ د هائیکو تصویرونه باید انتزاعي نه وي بلکې عېن حسّي وي ـ استیعاره،تشبیه او مشابه کلمو راوړل د هائیکو ذهني تصویر کمزورے کوي ـ همدا راز احساسات (دحس د لارې پوهه ایتقالول) هم د ښې هائیکو خوبي ده ـ یوه ښه هائیکو د لوستونکي احساسات پاروي ـ خو احساسات په هائیکو کښې توضیع کیږي نه بلکې په غېر مستقي ډول بیانیږي او د ایمیج د لارې انتقالیږي "[9]

جاپانی لیکدود کښې د هائیکو دپاره لیکلې شوې د "باشو"[1110]

جاپانی هائیکو د جاپانیز غږونو سره چې (Robert Aitkin) ئې انګریزی ژباره داسې کړې ده ـ د نمونې پۀ توګه :-

古池や

古池や 7

飛び込む 5

Fu-ru i-ke ya 5

Ka-wa-zu to-bi-ko-mu 7

mi-zu no o-to 5

Old pond

A frog jumps in

The sound of water[12]

ژباړه:-(زوړ ډنډ ته د

چیندخ ټوپ وهلو سره اوبۀ شور کوي)

په جاپان کښې د هوکوي هیئت نه اکثره لیکوال لاس په سر شو او بیله ازاده (فري سټائل) هائیکو د تحریک په ۱۹۰۹ کښې چلیدلو پۀ وجه د زوړ قید نه ازاده شوه ـ

"د پنځه اووۀ پنځه سیلابونو هائیکو چې زۀ ورته وړه هائیکو وایم او د د یولسو سیلابونو هائیکو چې زۀ ورته لویه هائیکو وایم،دواړه قسمه جاپانی شاعری کښې مستعمل دي ـ وړې هائیکو ته د هائیکو قدیم یا کلاسیکي هیئت وئیلے شو ـ دغه کلاسیکي هیئت چې پخپله جاپاني شاعرانو ماتۀ او هائیکو ئې د لنډ تنګ چوکاټ نه ازادۇله نودې ته ئې د فري سټائل هائیکو تحریک نوم ورکړو ـ کال ۱۹۰۹ کښې د دې تحریک پۀ نتیجه کښې د وزن او مضامینو پاپندي هم ختمه شوه ـ د ازاد هائیکو په تحریک کښې اوزاکا هوسائي Ozaka Hosai (1885-1926) تانیدا سنتوکا Santoka Taneda (1886-1940) غونډې اهم شاعرانو او ګیوارا سنسوئي Ogiwara Sensoi (1884-1974) غونډې قدآوره نقادان شامل وۀ ـ د زاادې

ساجدافغانؔ، هائیکو کښې د منفي مذهبي کردارونو د طنز تجزیاتي څېړنه

هائیکو تحریک ته د جاپان مقبولو ادبي مجلو
هم ډېر تقویت ورکړو ـ په دې لجلو کښې وردنټ
هیټVerdant Heat ، سموکSmoke، لیریډ کلاؤډزLeyered
clouds، او کوئینز Quince شاملې دي "[13]

لنډه دا چې که هر څومره هائیکو په پښتو کښې په دوه ډلو کښې لیکلے کیږي،خو چې ورستو څومره هائیکو کتابونه چاپ شول نو زیاتره د ازادې هائیکو دي ـ خو بیا هم اکثره د تعصب ښکار ځینو هائیکو لیکونکو د ازادې هائیکو د وجود نه منلو په لړ کښې د خپل ضد او انا پرې کلک اونیول ،او او ازادې هائیکو له ئې بل بل شان نومونه ورکړل،خو دغه هم خالې د دوئې سره په کتابې پاڼو پاتې شول ـ

د"باشو" د یوې منظومې هائیکو( پابند) او ازاد پښتنې هائیکو د نمونې په توګه:

په مړاوې
څانګه۵
ناست دے یواځې
کارغۀ۷

ماښام د منې۵ [14]

د یو خزان د ماښامي ترګمے
زیاتیږي ځي، او په لغړه څانګه
ناست دے یواځې یک تنها کارغۀ[15]

د ساجد افغان په هائیکو کښې پۀ مذهبي کردارونو د طنزتجزیاتي تفصیلي جاج واخیستے شي، دا ضروي ده چې طنز تعریف او تشریح اوکړے شي-

دطنزتعریف :

دا یو حقیقت دے،چې معاشره د ګڼو مسلو،ستونزو،ناکړدو،بدو او غلطو رواجونو نه ډکه وي ـ خو د اولس د نظر نه دغه ټولې غلطۍ پټې وي ـ یو ادیب یې اولس ته په داسې انداز سره په نخښه کوي چې د بدو نه د ادیب خپله هم کرکه او نفرت وي ـ اوهم دغه کرکه د دغه بدو نه د اولس هم پېدا کړي، د نفرت سره سره اصلاح یې هم غواړي ـ دا انداز او هنر طنز دے ـ

"طنز چې پۀ انګریزۍ ژبه کښې ورته (satire) وائي ـ یعنې هر هغۀ لیک ته وئیلے شي چې د هغې پۀ مدد لیکوال چې کله د توقو پۀ پرده کښې یو څیز یا موضوع باندې ډېر په بې رحمۍ سره تنقید کوي ـ او د هغه څیز یا موضوع ګڼ اړخونه رابرڅېره کوي چې د لیکوال د طنز نخښه وي ـ خو طنز نګار دا تراشۀ پۀ خوږو کښې لړي او په داسې رنګ ئې پېش کوي چې د طنز نخښه کوونکي ئې پۀ خندا خندا کښې وزغمي"16

دا خبره حقیقت دے چې پښتانه د اسلام دین سره ډېره مینه ساتي ـ او په دین باندې تر خپلو سرونو تېر دي ـ خو په ځانګړي او

ټولنیز کچ چې مونږ اوګورو نو دلته ډېر مذهبي کردارونه شته ـ کوم چې د خپل منفي کردار د وجهې د اصلاح او ښېګړې په ځائے د ټولنې دپاره د نقصان او شر سوب جوړیږي ـ دغه ټول ټولنیز مذهبي کردارونه ساجدافغان په هائیکو کښې په خپل رسا فکر د طنز په غشو په نخښه کړي دي ـ کوم چې د اولس د سطحي نظر نه پټ پاتې دي ـ

د ملا په کردار طنز:

"إن العلماء ورثة الأنبياء وإن الأنبياء لم يورِّثوا دينارًا ولا درهمًا، إنَّما ورَّثوا العلم، فمن أخذَه أخذ بحظٍّ وافر"[17]

ژباړه: (بیشکه عالمان د پېغمبرانو وارثان دي،بیشکه پېغمبران په میراث کښې درهم او دینار نهٔ بلکې علم پرېږدي،چا چې د دې نه د علم څهٔ برخه هم واخیستله،نو بیشکه دا لویه برخه ده) ـ

د اسلام پهٔ رڼا کښې د" علم " تشریح:

د علم ،پحقله په مشکواة شریف په "باب د علم "کښې په (مرقات) حاشیه کښې ذکر دے ـ "ژباړه: (علم نور دےچې پهٔ زړهٔ د مومن کښې وي ـ دا نور د پېغمبر د نبوت د -حدیثو د ډیوي نه اخیستے شوے وي چې قولي او فعلي دي ـ د دې سره د الله ﷻ پېژندګلو راځي خو که چرته په دي سره د الله ﷻ پیژندګلي نه کیږي نو دا بیا علم نه دے معلومات دي"[18]

د دې نه دا خبره واضح کیږي چې کوم "علم" به د الله ﷻ معرفت کوي ـ د دې نه علاوه چې نور څومره څهٔ دې او د الله د پیژندګلو نه قاصر دي دا علم نه دے معلومات دي ـ په دې بنیاد عالم به هم هغه چاته وئیلے شي ـ چې الله معرفت ورته وي ـ خو کهٔ چرته باعمله عالم نه وي نو دغه علم هیڅ فائده نه لري ـ د علم سره عمل لازم دے ـ د پښتو ژبې شاعر عبدالرحمٰن بابا هم وائي:

علمیت د بې عمله عالمانو
لکه ګنج د کتابونو پهٔ خر بار
شه[19]

عالم ،ملا معنٰی او تشریح:

عالم ته په لغوي معنو کښې ،ملا ،فاضل،پیش امام ،اشراف،فقیهه او مولوي وغېره وئیلے شي ـ خو پهٔ اصطلاح کښې د دې تعریف داسې کولے شي ـ

"چې د چا سره د حدیثو د پېغمبر علم وي ـ او د الله نه ویریدونکے هم وي ـ او په دغه علم باندې عمل هم کوي ـ دې ته عالم (دین) وئیلے شي ـ ملا، لفظ الله ﷻ ته منسوب دے،دې ته "مولا" والا وائي"[20]

حضرت اشرف علي تهانوي (رح) د عالم ،ملا او مولوي تعریف داسې کړے دے ـ

"مولوی اسکو کہتے ہیں - جو مولیٰ والا ہو،یعنی علم دین بھی رکھتا ہو - اور متقی بھی ہو،خوف خدا اور اخلاقی حمیدہ بھی رکھتا ہو،مولوي نسبت مولٰی کی طرف یعنی مولا(اللہ ﷻ)"[21]

ژباړه:

(ملا هغهٔ ته وئیلے شي،چې د دین علم ساتي،متقي او د الله (ج) نه ویره لري،اوښهٔ اخلاق لري،د ملا نسبت مولٰی اړخ ته دے ــ مطلب الله جلّ جلاله والا) ــ
شالید:
دیني ټولګے(علماء) پهٔ دوؤ ډلو کښې تقسیم دي ــ
۱-علماء حق:
د الله تعالٰی د وحدانیت پېغام او هدایت مخلوق ته رسؤلو کار د نبیانو او پېغمبرانو(علیه الاسلام) په ذمه ؤ ــ دا سلسله تر حضرت محمد ﷺ رارسېدلو او د نبوت د سلسلې د ختمېدلو نه وروسته تر ننه پورې هم د الله د هدایت خورولو کار د عالم دین په ذمه دے ــ ځکه چې دا خلق اسلام دین تر د قیامته پورې نورو انسانانو ته رسوي ــ او دا طبقه د عزت او احترام وړ ده او دیني علم لرونکي خلق دي ــ د علماء حق په حقله په قرآن کښې الله جلّ جلاله فرمائي: إِنَّمَا يَخْشَى اللَّهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمَٰٓؤُا[22] ژباړه: (بېشکه د الله جلّ جلاله د بندیګان نه ویرودونکي د هغه علمان دي) ــ د قرآن د ذکر شوي آیت کریمه نه دا خبره واضح ده چې د علماء حق به د علم سره د الله نهٔ ویره لازم ده،یعني عالم به د الله نه په زړهٔ کښې ویره هم ساتي ــ نو هله به عالم حق ګڼلے شي ــ چې څومره څوک لوئي عالم وي دومره به د الله جلّ جلاله نه ډېر ویریدونکے وي ــ او په خپل علم باندې به عمل کوونکي وي ــ عبدالرحمٰن بابا د عالمانو په حقله پهٔ خپل دیوان کښې یو مکمل غزل کښې د دوئي پهٔ کردارونو باندې بشپړه تبصره کړې ده ــ د رحمان بابا د کلام نمونه:

علامان دي روښنائي د دې دنیا
عالمان دي د تمام جهان پیشوا
کهٔ څوک لار غواړي و خدائے جلّ جلاله او هم رسول (ص) ته
عالمان د دې لارې راهنما[23]

۲-علماء سوء:
دا هم یوه اهمه خبره ده چې د عالمانو په دې عظیمه طبقه کښې داسې خلق هم شته چې د دین او علم په دې عظیم کار په تر سره کولوکښې پاتې راغلي دي ــ او د دنیائي مفادو دپاره ئې د علم د دروغو پردې په ځانونو اچولې دي ،څهٔ ته چې نام نهاد عالمان او ملیان او علماءسوء وئیلے شي ــ حدیث شریف کښې نبي صلی الله علیه وسلم فرمائي:
"من طلب العلم ليماري به السفهاء أو يصرف به وجوه الناس إليه أدخله النار"[24]
ژباړه: (چا چې علم د دې پاره حاصل کړو چې د عالمانو سره مقابله اوکړې،یا د کم علمو سره جهګړه کوي،یا په علم په زریعه خلق ځان ته مائل کوي،الله به دا سړے جهنم ته داخلوي) ــ
د مذکوره حدیث نه واضحه ده چې دا قسم علماء سوء د دین د ښېګړې په ځائې د مفاداتو د حصول دپاره د دین لار خپله کړي وي ــ ځکه خو پښتانهٔ په داسې عالماء(سوء) باندې په ځائې تنقید کوي ــ لکه "ملا بل ته مسلې کوي او خپله قلقلې کوي"[25]

د بده مرغه په دې معتبرو او د دین د سرلوړی ورکوونکي ډلې او ټولګي کښې تش په نوم او شکل و صورت داسې ملایان هم شتون لري ـ چې ظاهري خو عالمان وي ـ خو عملي کردارونه یې د شریعت خلاف وي او د الله پاک دین اسلام ته نقصان ورکونکي وي ـ

"زمونږ په معاشره کښې د ډېرې مودې نه دا یوه غټه مسله جوړه ده چې د مذهب په نوم نام نهاده مذهبي مشران د لالچ په خاطر د بنیاد پرستی په جامهٔ کښې کښې استعمال شوې دي ـ د مذهب د صحیح استعمال په ځائے هغوئې د مذهب غلط استعمال کړے دے،او تر دې دمه لګیا دي کوي ئې،په دې ډله کښې جعلي پیران ،تنګ نظره او کم علمه ملیان هم شامل دي"[26]

په پښتو ادب کښې د نام نهاد مولیانو په کردارونو وخت په وخت ګوتې اوچتې شوې دي او د دوئې منفي کرادرونه پکښې غندلي شوي دي ـ خوشحال خان خټک او غني خان په خپل خپل انداز کښې دا کردارونه په کلام کښې په طنز طنز کښې اولس ته ښکاره کړي دي ـ خوشحال خان خټک علامه اقبال په دې حقله وائي:

نادیده په نادانی څهٔ بلا کا
الف بې ئې لوستي نه وي ځان
ملا کا[27]
میراث میں آئی ہے انہیں مسند ارشاد
زاغوں کے تصرف میں
عقابوں کے نشیمن[28]

ژباړه:(دوئې(علماءسوء) ته په میراث کښې د وینا مسند او مقام داسې میلاؤ شوے لکه څنګه چې د بازونو مسکن د زاغونو په قبضه کښې راغلے وي) ـ

**دم دورهه کوونکي ملا باندې طنز:**

نن سبا داسلام د احکامو د پرواه نه کولوپه شکل کښې ډېرو پېشه ور ملیانو دې دندې ته ګوتې اچولي دي ـ په دې حقله فضل الحق شېدا په "بې عمل ملا" کښې د ښځو او دم تعویزونو ذکر په یو شعر کښې داسې کوي ـ

چارچاځیره ترې نه ډله وي د
ښځو
مریضانې په تعویز د دهٔ رغیږي[29]

ساجد افغان په لاندېنی هائیکوکښې په داسې ملا طنز کوي ـ

د عالِم علم ته مې سر ښکته
دے
خو چې دا ښځې دموي په مخه
داسې ملا راته بلا ښکاره
شي[30]

**نذر،منښته یا منت منل:**

کهٔ د جانان خبر مې راشي
زهٔ بهٔ خیرات کړمه د غاړې
تعویزونه[31]

اکثر خلق د يو ارمان يا خواهش د پوره کيدلو نه وړاندې داسې پۀ زړۀ کښې اومني چې که دا کار داسې اوشو نو زۀ بۀ دا فلانکے کار کووم ـ دې ته پښتوکښې منښته ، عربی ژبې کښې نذر اوهندی ژبې کښې منت وئيلے شي ـ اکثر خلق د خيرات صدقې منښته نيسي ـ څېنې د روژو په صورت کښې نظر نيسي او د نور عبادت په شکل کښې،څه په قبرونو زيارتونو ګوړې پيسې او خوراکې څيزونه ږدي په مختلف شکلونو کښې دا منښتې منل شي ـ خو دا خبره د ياد وړ ده چې کوم نذر د الله نه علاوه بل چا سره منسوب شي ـ دا شرک دے ـ

نذر/منت تعريف:

په ځان باندې څه څيز واجب کول، يعنې هغه صدقه يا عبادت د اللهﷻ دپاره په ځان باندې لازم کول،او د خپل مقصد په پوره کېدلو سره هغه هم پوره کولو ته نذر او منت وائي ـ

"نذر کے معنی ہیں کسی شرط پر کوئی عبادت اپنے ذمہ لے لینا، مثلاً: اگر فلاں کام ہوجائے تو میں اتنے نفل پڑھوں گا، اتنے روزے رکھوں گا، بیت اللہ کا حج کروں گا، یا اتنی رقم فقراء کو دوں گا وغیرہ، اسی کو منّت بھی کہا جاتا ہے"[32]

ژباړه:(د نذر معنې دي،پۀ څۀ شرط يو عبادت په خپله ذمه اخيستل،مثلاً اګرکه فلانکے کار اوشو،نو زۀ به دومره نفل ادا کووم،حج به کووم،يا دومره پيسې به فقيرانو ته ورکووم ،وغيره،دې ته منت هم وئيلے شي) ـ

ساجد افغان په هائېکو کښې په طنز طنز کښې ښکاره د نخښې په مېنځ ګوزار کړےدے ـ او د بدعت په نامه عام خلقو له دوکه ورکوونکو مليانو او شېخانو په کردار يې نيوکه کړې ده ـ لکه

راته يې وې په زيارت
ګوړه مه ږده
يو ځل مې اوکتل چې شېخ
وخوړه
ما بدعت وکړو او
د وخوړلو[33]

شب برات :

دا د دوؤ ژبو د لفظونو نه جوړ يو مرکب دے ـ شب پۀ فارسی ژبې کښې شپې ته او برات پۀ عربی ژبې کښې نجات او خلاصي ته وئيلے شي ـ يعنې د نجات شپه ـ پۀ اصطلاح کښې د شعبان د مياشتې پنځلسمې شپې ته وئيلے شي،کوم کښې چې مسلمانان د نفلې عبادتونو په زريعه د اللهﷻ نه د خپلوګناهونو بخښنه غواړي ـ اللهﷻ په قرآن پاک کښې فرمائي:

حٰمٓ وَالْكِتٰبِ الْمُبِيْنِ اِنَّآ اَنْزَلْنٰهُ فِيْ لَيْلَةٍ مُّبٰرَكَةٍ اِنَّا كُنَّا مُنْذِرِيْنَ فِيْهَا يُفْرَقُ كُلُّ اَمْرٍ حَكِيْمٍ[34]

ژباړه:(حا ميم (حقيقي معنٰی اللهﷻ او رسولﷺ ښۀ پيژني) او په د رڼا کتاب باندې قسم ې مونږ پۀ دې برکتي شپه دا کتاب نازل کړے دے ـ بيشکه مونږ ويره اورولو والا يو،په دې شپه کښې د هرحکمت والا کار بېله بېله فيصله کولے شي ـ

ددې شپې پۀ اسلام کښې ډېر فضيلت بيان شوے دے ـ اللهﷻ بنده ته ټوله ګناه بخښي ـ او هر جائزسوال د بنده قبلوي ـ دا جهنم د اوور نه ورته نجات ورکوي ـ د رزق فېصله يې هم کوي ـ دې ته د رحمت،مغفرت،او مبارکه شپه هم وائي ـ په قرآن او

حدیث کښې د دې شپې ډېر فضیلتونه راغلي دي ـ پښتانهٔ دې مبارکې شپې ته شب قدر او په عام روزمره لهجه کښې ورته شوقدر هم وائي ـ د مخکښې راهسې د هندوانو او اتش پرستو د وختو یو رسم چې هندوان ورته دیوالي[3635] وائي ـ په دې کښې اتش بازي کولے شي ـ هم دغه بیخي زمونږ په پښتنهٔ ټولنهٔ کښې هم رواج لرلو ـ د وخت د علمانو کوم چې په خپله هم د دین د احکاماتو نه پوره خبر نو ؤ،نو د د دین د اصل ماخذ په ځائې ئې پکښې نور څهٔ داسې عقیدې او فلسفې د بدعت په شکل کښې ورګډولې چې د دین د واضح احکاماتو سره بهٔ ئې هیڅ سروکار نه وهٔ ـ لکه د شب برات په شپهٔ د اتش بازی په لړ کښې بهٔ ئې دا خبره داسې کوله لکه بیخي چې قران او حدیث مطابق وي ،چې د غونډوسکو د شپې د اسمان طرف ته ګزارلو سره د فریښتو وزرې سوځي ـ نو ساجد افغان هم په خپلې هائیکو کښې په دا قسم بې بنیادو عقیدو او نظریو کوم به چې بې علمو ملیانو د ځاننه پهٔ دا قسم بدعتونو او غېر شرعي دریزونو په شکل کښې د عام اولس په ذهنونو کښې ټومبلې وې ـ ښکاره خبره ده چې په شریعت کښې دا رسم حرام دے ـ د یو ملا داسې استیدلال ورکول د ملا په جهالت او بې علمۍ باندې ګواهي ده ـ پکار ده او دا ډیره اهمه ده چې د دې قسم بدعت نه اولس د قران او حدیث په رڼا کښې منع کړې شي ـ د خپلې کم علمۍ د پټولو دپاره ولې بې جوازه استیلال راوړلے شي ـ چې د اسلامې احکاماتو سره بیخي ټړون نه ساتي ـ دا یو حیقت دے چې اتش بازي پهٔ شب برات باندې کول یو غېر شرعي او قبیح رسم دے ـ کوم چې د هندوانو نه مونږ ته منتقل شوے دے ـ د څهٔ نه چې املاک او نور څیزونو ته د اوور لګېدلو خطره او خدشه وي ـ او خپله هم پکښې جاني خطره وي ـ نو ساجد افغان د کم علمه ملا په دې کرادر طنز په ځائې کوي ـ کوم چې په دین کښې د ځان نهٔ مسلې پېدا کوي ـ ځکه چې عالم دین په چرته هم د خپله ځاننه شرعي حکم نه جاري کوي ـ ساجد افغان د ملا په دې تجربه طنز کوي چې د غونډوسکو سره د فریښتو وزرې نه پردی بوساړې سوزیدلې ـ یعنې د بې علمه ملا تجربه غلطه ده ـ لکه دا هائېکو :

د فریښتو وزرې
نه سوزیدې
شب برات او د
ملا تجربه
په دې غونډسکو بوساړې
سوزیدې[37]

سقوط بغداد:

دا خبره هم حقیقت دے ښهٔ بد په هر قوم کښې وي ـ په مذهبې کچ اوپه بیا په خاصهٔ توګه په اسلام کښې داسې قسم برائے نام ملیانوهم کمے نشته چې بې مقصده مناظرو کوونکي دي ـ داسلام د اصل پیغام او مقصد پهٔ ځائې بې مقصده مناظرو او وخت تیرولو ته ناست وي ـ په اسلامي تاریخ کښې د دې ژوندے مثال دسقوط بغداد (عراق) دے ـ چې د عام اولس او حکمرانو د بې حسۍ سره سره علماء هم د دین اسلام د اصل پېغام په ځائې په منفي کردارونو کښې بوخت شوي ؤ ـ د کوم انجام چې تباهي او زوال په شکل کښې رامېنځ ته شوې وه ـ

"بغداد علم کا مرکز تھا، فنون کا گہوارہ تھا اور دنیا بھر کے اہل علم و دانش کا مرجع تھا، مگر عباسی خلفاء اور ان کی سلطنت کے زوال کا اثر بغداد پر بھی پڑا۔ جب فروری ۱۲۸۵ء میں منگول سردار ہلاکو خان نے سلطنت عباسیہ کے آخری تاجدار معتصم باللہ کو شکست دے کر قتل کر ڈالا تو نا صرف عظیم الشان عباسی سلطنت و خلافت تاریخ کے دھندلکوں میں گم ہوگئی بلکہ ہلاکو خان نے بغداد کی بھی اینٹ سے اینٹ بجا دی۔ مؤرخین لکھتے ہیں کہ اس موقع پر اس قدر وحشیانہ قتل عام ہوا کہ بغداد کی بیس لاکھ آبادی میں سے پندرہ لاکھ کے لگ بھگ اس قتل عام کی بھینٹ چڑھ گئے۔ کتب خانے جلا دیے گئے، علماء و دانشور تہہ و تیغ کر دیے گئے، اور علم و تہذیب کے نشانات تک مٹا دیے گئے"[38]

ژباړه: (بغداد د علم مرکز وۀ ـ،د فنونو ځائې وۀ،د دنیا د علم او زده کړې استانه وه ـ مګر عباسي خلیفه ګانو او د دوئې د سلطنت د زاول اثر په بغداد هم پرېوت چې کله په فروري۱۲۵۲ء کښې منګول سپه سالار هلاکو خان د عباسي سلطنت اخري بادشاه معتصم باالله له شکت ورکړو او مړئې کړو،نو نۀ خالې دا چې عباسي لوئې سلطنت او خلافت د تاریخ پۀ تیارکۀ کښې ورک شولو،بلکې هلاکوخان بغداد تباه کړو ـ تاریخ دان لیکي،چې په دې موقعې داسې وحشیانه قتل عام شوے وۀ ـ چې د بغداد په شل لکه ابادۍ کښې پنځلس لکه خلق وژل شوي وۀ ،کتب خانې سوزولې شوې وې،علمان په سولو خیژولي شوي وۀ ـ د علم او تهذیب نخښې ئې ورکې کړې وې) ـ

سقوط بغداد، د مسلمانانو په تاریخ کښې د ډېرې لوئې سانحې او واقعې نوم دے،که یو اړخ ته بغداد په یو دور کښې د اسلامي علمونو مرکز ګرځېدلے وۀ ـ او د علم حدیث فقه،نورسائنسي علمونو د پاره مدرسې او نور ډېر اسانیاګانې وې ، نوبیا پکښې داسې وخت هم راغلے وۀ چې د اسلام د حکمونو ماتولو کښې ئې په ټولنیز ډول هیڅ هم صرفه نه وه کړې ـ او د اسلام خلاف هر قسم کارونه ئې تر سره کړي ؤ ـ او د الله د عذاب په شکل کښې پرې قحط،زلزلې هم راغلې وې ـ اخرکار چې هلاکو خان په شکل کښې پرې داسې حملې اوشوې چې د قتلونو حد ئې پار کړو ـ او په دغه حالاتو کښې که د حکمرانو فحاشۍ او نشې تماشې او په اولس کښې هر قسمه ګناه هم عام شوې وه ـ نو بې حسي هم په انتها وه،چې د هلاکو خان د خپل لښکر د پاره د جنګ سامان د پاره حکم کولو نو د بغداد حکمرانان د په دغۀ موقعې په الات موسیقي د مد کښې خپلې پېسې لګولې، هم په دې خلقو کښې مذهبي طبقه په خپل اصل مقصد کښې ناکامه وه او بې مقصده مسلو به ئې تشې مناظرې کولې ـ

په دې وجه ساجد افغان په داسې ملیانو په کردارونو طنز او ګوتنیونه دپاره دسقوط بغداد هغې خونړۍ حادثې ته په خپلې هائېکو کښې اشاره کړې ده ـ

لاړو بغداد مې امریکي
فتح کړو
ملخ حلال دے او که نه
دے حلال
ملیان په دغه مسلو
نښتي دي[39]

د حاجي په کردار طنز:

حج د اسلام پنځم اهم رکن دے ـ کوم چې په صاحب نصاب، استطاعت بالغ مسلمان باندې په ټول عمر کښې يو ځل اداکول فرض دي ـ د الله د کور د زيارت د ذالحجه د ۸ نه تر۱۲ پورې کولو ته حج وائي ـ د حج معنىٰ ده ،زيارت کول ـ په اصطلاح کښې په شريعت کښې په مخصوص وختونو کښې د بيت الله طواف ،عبادتونه،په عرفات کښې پاتې کيدل او مناسک حج کول ،دې ته حج وئيلے شي ـ

د قرآن او حديث په رڼا کښې د حج حکم:په قرآن کښې الله ﷻ فرمائي:

وَلِلَّهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا وَمَنْ كَفَرَ فَإِنَّ اللَّهَ غَنِيٌّ عَنِ الْعَالَمِينَ[40]

ژباړه: ( د الله ﷻ د کور زيارت کول په انسانانو فرض دي، څوک چې د بېت الله د تلو وس او طاقت لري ـ چا چې نافرماني اوکړه،بې شکه الله ﷻ د مخلوقاتو نه بې پرواه دے) ـ

په حديث شريف کښې رسول الله ﷺ فرمائي:"بُنِيَ الإِسْلاَمُ عَلَى خَمْسٍ: شَهَادَةِ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلَّا اللّهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللّهِ، وَإِقَامِ الصَّلاَةِ، وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ، وَالحَجِّ، وَصَوْمِ رَمَضَانَ"[41] ژباړه: (د اسلام بنياد په پنځؤ څيزونو باندې دے ـ الله وحدانيت، رسول ﷺ د الله نبي منل،نمونځ قائمول،زکوات ورکول،حج کول اود رمضان روژې نيول)

د حج ثواب او فضيلت په حقله حديث نبوي ﷺ دے ـ "ژباړه: (چې څوک د الله د پاره حج کوي،د غلطو نه ځان بچ کوي،نو دے به د ګناهونو داسې پاک ستنيږي لکه څنګه چې د مور د خيټې نه نن پيدا شوے وي) ـ"[42]د حج په نه کولو باندې په حديثوکښې سخت وعيدبيان شوے دے چې په کوم مسلمان چې حج فرض وي او حج نه او نه کړي نو په حديثو کښې دې سرې د پاره بني ﷺ فرمائېلي دي ـ "ژباړه: (رسول لله افرمائيل "چې د د يو سرې سره خرچ او سورلی بندوبست وي،چې د الله د کرو حج اوکړي،او بيا هم حج نه کوي نو هغه که يهودي مري او که نصراني"[43]

د حج د پاره په اسلام کښې خپل شرعي احکامات دې د کومو پوره کول چې ډېر ضروري دي ـ د بيت الله او کعبې او تشه ليدلو ته طواف کولو ته حج نۀ شي وئيلے ـ څکه خو عبدالرحمٰن بابا وائي ـ

د کعبې پۀ بزرګی کښې هيڅ شک نشته
ولې خر به حاجي نۀ شي پۀ طواف[44]

د حج کول ،په اصل کښې د الله رضااو خوشحالي حاصلؤل دي ـ خوبده مرغه زمونږپه ټولنه کښې داسې مسلمانان هم شته چې د نوم (حاجي) د پاره دغه ديني فريضه (حج) تر سره کوي ـ او داسې خلق هم شته چې په حرامو پېسواو پردو مالونو باندې حجونه کوي ـ او د ځان ښودنې او ريا د پاره هم حجونه کوي،د حج د اسلامي او شرعي احکاماتو نه نۀ وي خبر يا ترې ځان نه خبروي ـ ساجد افغان داسې پۀ مذکوره، تش د ريا او حاجي نوم دپاره حج کوونکي په کردار ګوتنيونه په خپل رسا فکر د هائيکو په صورت کښې کړې ده ـ د رياکاراو بخيل او حرام خورحاجي په کردار ساجد افغان په داسې طنز کړے دےـ

چرته د خېر نورې
خبرې اوکړه
د حج نه راغلے ستا د
سترګو نه ځار
ما ګورے کړے دے قیصې او نه کړې[45]

حج له په خپل ځائے بل څوک نه لېږمه
مال او دولت به پرې
زما اولګي
خلق به بیا حاجي هغه
ته وائي[46]

اوبۀ ترې وڅښئ او خورمه ترې اوخورئ
اومبارکی له ترې
نېغ ماله راځئ
زما په مال باندې
یې حج کړے دے[47]

ریاکار پیر، ذاهد په کردار طنز:

هر هغه کار چې په کښې ښودنه او خلق راته ښۀ اوائي ، خلقو ته ښۀ ښکاره کېدو د پاره کولے شي،ریا ده ـ دا د مخفي شرک په زمره کښې راځي ـ ریا، لفظ د زویته نه ماخوذ دے،چې مطلب ئې دے "سترګو لیدل" ـ ریاکاري په ډېرو نیکیو باندې درنه ده ـ یعني نیکی ختموي او ډېر بد او مزموم عمل دے ـ

په قرآن کښې اللهﷻ فرمائي:

"قُلْ إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ مِثْلُكُمْ يُوحَى إِلَيَّ أَنَّمَا إِلَهُكُمْ إِلَهٌ وَاحِدٌ فَمَنْ كَانَ يَرْجُوا لِقَاءَ رَبِّهِ فَلْيَعْمَلْ عَمَلًا صَالِحًا وَلَا يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهِ أَحَدًا"[48]

ژباړه: (اے پیغمبرﷺ خلقو ته اووایه،چې زه ستاسو په شان یو انسان یم،البته ماته وحي کیږي،چې ستاسو یو معبود دے،چې څوک هم د خپل رب سره د لیدلو امید کوي،هغه ته پکار دي،چې د خپل رب په بندګی کښې بل څوک شریک نه ودروئ) ـ

حدیث پاکﷻ دے ـ "انا اغنی الشرکاء عن الشرک، من عمل عملا اشرک معی فیہ غیری ترکتہ وشرکہ"[49] ژباړه: ( زه د هر قسم د شِرک نه مستثنٰی یم ـ چې څوک هم زما سره غیر شریک کوي ـ نو زۀ هغه سره د شرک پرېږدم) ـ په عباداتو کښې د ریا پۀ حقله د نبي کریمﷺ فرمائي: "مَنْ صَلَّى يُرَائِي فَقَدْ أَشْرَكَ ، وَمَنْ صَامَ يُرَائِي فَقَدْ أَشْرَكَ"[50] ژباړه: (چې څوک د ښودنې د پاره نمونځ کوي،نو شرک ئې اوکړو،چې کوم سړے د ښودنې د پاره روژه نیسي،نو دا هم شرک کوي،او چې څوک د ښودنې د پاره صدقه کوي نو دا هم شرک کوي ) ـ په عباداتو کښې ریا کاري لکه "هندو سترے او خدائے ناراض" په ټولنیز کچ د مذهب او اسلام دین په پرده کښې اکثر د خلقو عبادتونه ظاهري نمائش وي ـ او د پیر ذاهد په دې جامه کښې د خلقو توجو ځانونو ته راړوي چې ګڼې دا

خو ډیر الله والا دے متقي دے عبادت کوونکے دے ـ د دې قسمه پیرانو او ذاهد خلقو مقصد ځان ښودنه وي،خو په ظاهره ئې ځانونه داسې جوړ کړي وي ـ او پټ ریاکاري او ځان ښودنې شوق لري ـ ساجد افغان د ریاکار پیر ،ذاهد ریااو منافقت په طنزطنز کښې اولس ته په نخښه کړے دے،د نمونې د پاره دا لانینۍ هائېکو:

هر وخت به ډوب وي د
الله مینه کښې
لوړ له جړق ورکوي
حق وائي خو
پیر صیب په نېغه لاره
کوړ روان دے[51]

د تبلیغي په کردار طنز؛

تبلیغ،د اسلام په خورولو کښې ډیر مهم کردار دے ـ د محمد (صلی الله علیه وسلم) نه تر دې دمه د تبلیغ د محنت په برکت دین مونږ ته رارسېدلے دے ـ د الله جل جلاله او رسول صلی الله علیه وسلم دغه د هدایت پیغام نورو ته رسؤل ،تبلیغ دے ـ الله جل جلاله په قرآن پاک کښې فرمائي: كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ[52] ژباړه:(تاسو د کلوق دپاره بهترین امت پېدا شوې یئ ـ چې د نېکۍحکم کوئ او بدئ نه منع کوئ ـ او په الله جل جلاله باندې ایمان راوړئ) ـ په حدیث شریف کښې نبي صلی الله علیه وسلم فرمائي: ژباړه:(ورسوئ نورو خلقو زما نه که یو ایت ولې نۀ وي)

زما د یو کال اِراده ده
کۀ تبلیغان مې د یار کلي
ته بوځینه

ساجد افغان په داسې مزکوره تبلیغانو په کردارونو طنز کوي ـ د داسې خلقو پټ مقصدونه په خپل تخلیق کښې اولس ته په نخښه کوي ـ د ذاتي ګټې د حصول کوونکي تبلیغي په کردار طنز داسې کوي ـ

یاره ستا مینه ما جومات
ته بد دوځي
پلار دې بېلماځه سړے نه
خوښوي
زۀ ستا د پاره په
تبلیغ کښې ځمه[53]

## د زکوات ،خېرات ورکوونکي په کردار طنز:

اسلام په معاشي توګه غوره او مکمل نظام دنیا ته وړاندې کړے دے ـ مال دولت د څو کسانو په لاسو کښې نه ورکوي، چې ټولنه کښې توازن او معاشي اعتدال قائم وي ـ اسلام کښې د زکوات ورکول فرض دي ـ الله د اسلام بنیاد په پنځۀ ستنو قائم کړے دے ـ چې دریمه ستن پکښې د زکوات ده ـ د زکوات معنٰی پاکېدل،او زیاتېدل ده ـ دا مالي عبادت دے ـ چې په صاحب نصاب مسلمان باندې فرض دے ـ په قرآن کښې الله جل جلاله فرمائي: اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَاَقَامُوا الصَّلَاةَ وَاٰتَوُا الزَّكَاةَلَهُمْاَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ وَلَاخَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ[54] ژباړه:( چا چې ایمان راوړے

دے،او نېک عمل کوي،نمونځ قائم ساتي،زکوات ورکوي،د الله سره ئې لوئې اجر دے،دوئې به نه ويره وي او نه به غمژن وي) ـ

چې زۀ مړ شمه ډوډي شي رانه پاتې
سپي ئې نۀ خوري ورکوومه ئې خيرات کښې
زوړ قميص د اغوستلو چې نور نۀ وي
چا غريب لره ئې ورکړمه زکات کښې[55]

نو په دې وجه،ساجد افغان په يو داسې مالدار باندې پۀ هائيکو کښې طنز کړے دے،چې يوغريب له په قرض ورکړې پيسې په زکوات کښې حسابوي ـ

ريښتيا د چا قرض څوک نه
شي خوړے
د يو سړي نه مې
پېسې نه ختې
نو په زکات کښې مې حساب
کړې ورته[56]

کور ته ځيزونه نوي
نوي راوړو
خو چې ټوپۍ او جائے نماز
زړېږي
نو هغه ګوټ ته د جومات
اوولو[57]

عبدالرحمٰن بابا وائي ـ

خزانه پۀ سخاوت باندې زياتيږي
د کوهي اوبۀ چې اوباسې بېدسيار
شي[58]

ساجد افغان لاندېنۍ هائېکوګانې د بخيل په کردار په مخ د طنزسپېړې دي ـ

ما دا خېرات د شرمه پټ
ورکوۀ
نو يو سوالګري ښۀ صفا
اووئيل
چې د پينځوۀ روپو به
څۀ دعا وي[59]

اوس مې د زړه نه هغه درد
نه اوځي
زما دا خيال وۀ کني لس
روپۍ دي
خو په چنده کښې مې زرګون
واچوۀ[60]

لنډه دا چې د دې دومره بخث نه ورستو د ساجد افغان د هائیکو دننه په مذهبي کردارونو ګڼ شمیرته شوې طنزونه غیر شرعي او غیر اسلامي جزیات شتون لري چې د ټولنیز کچ د طنز دغشو د ساجد افغان هائیکو د ښکار ښکار شوي دي-د کومو نه چې پښتانه ټولنه اوس هم د تیارو ښکار ده-

## حوالې او حاشیې

[1]ساجد افغان،"شرغشي"،*مل لائبریري،بتخیله*،۲۰۰۶ء

[2]ساجد افغان،"پشم"،*عکس پرینټنګ پریس بټخېله*،۲۰۱۹ء

[3]ساجد افغان،"شعري کلام"،ناچاپ

[4]ساجد افغان، "مرګ په خله کښې د خندا خبرې" ناچاپ

[5] ساجد افغان،"لنډې افساني"ناچاپ

[6] ساجد افغان،"د قېد و بند نثري ليکنې"ناچاپ

[1] خان ،محمد اقبال،سریزه،"اترنګ"اختر حیات قمر،*پښتو اکېډمي هزاره* – مئي ۲۰۲۰ء،مخ،۲۴،۲۵

[7] – اسمٰعیل ګوهر،د هائیکو مقدمه(سریزه)،"ما هائیکو کښې شاعري کړې ده"،*پښتو اکېډمي هزراه*،اکتوبر ۲۰۱۹ء ،مخ،۹

[8] www.brthinica.com....dated 27 April 2020 3:24 am

[9] تدبیرَمحمد نبي،"سریزه"،اسمٰعیل ګوهر،"ما هائیکو کښې شاعري کړې ده"(هائیکو ټولګه)، پښتو اکېډمي هزراه،اکتوبر ۲۰۱۹ء ،مخ،۶

[10]

[12] .www.bopsecrets.org dated 30,jully2020 4:20 pm

[13] اسمٰعیل ګوهر،د هائیکو مقدمه(سریزه)،"ما هائیکو کښې شاعري کړې ده"،*پښتو اکېډمي هزراه*،اکتوبر ۲۰۱۹ء ،مخ ،۱۶،۱۷

[14] فېصل فاران،د پیر محمد کاروان په غزل کښې د فطرت ټاکنې،*(پښتون )* رساله،دریم دور،۱۳۱

15 اسمٰعیل گوهر،"ما هائیکو کښې شاعري کړې ده"،*پښتو اکېډمي هزاره*، اکتوبر ۲۰۱۹ء ،مخ،۱۱۳

16 منېر،گل،ډاکټر،"د *غني خان په کلام کښې طنز و مزاح*"، پښتو،جلد۴۷،نمبر ۶۵۶،جولائي ، دسمبر ۲۰۱۸ء مخ،۲

17 کثیر بن قیس(راوي)،مشکواة شریف،جلد ۱،،باب العلم،*المکتبه حقانیه،پشاور*، د چاپ نېټه نه لري،مخ،۳۴

18 هم دغه،مخ،۳۵

19 عبدالوافي،،عبدالرحمن بابا،*دیوان*، (ترتیب،تصحیح)*رحمن گل پبلیشر محله جنگي عقب*،قیسه خواني بازار پېښور،د چاپ کال نه لري،مخ،۵۰

20 *مشکواة شریف،جلد۱* ،باب العلم (مرقات حاشیه)،*المکتبه حقانیه،پشاور*، د چاپ کل نه لري،مخ،۳۵

21 ماهنامه*"بینات"،جامعه العلوم الاسلامیه،کراچي*،۱۰،اگست،۲۰۲۰ء،ص،۴۸

22 القرآن،سورت فاطر،آیت،۲۸

23 عبدالوافي،،عبدالرحمن بابا،*دیوان*، (ترتیب،تصحیح)*رحمن گل پبلیشر محله جنگي عقب،قیسه خواني بازار* پېښور،د چاپ کال نه لري،مخ،۲۶،۲۷

24 مشکواة شریف ،حدیث ۳۴

25

26 گل منیر،ډاکټر،"*غني خان په کلام کښې د طنز و مزاح*"،پښتو،جلد ۴۷،نمبر۶۶، *پښتو اکیډمي پېښور*،جولائي ،دسمبر،۲۰۱۸ء مخ , ۱۰

27 رسا،سید رسول (مقدمه) ،*ارمغان خوشحال،یونیورسټي بک ایجنسي پېښور*، اول ځل چاپ ۱۹۶۷ء دویم ځل چاپ ۲۰۰۱ء ،مخ۳۲۸

28 محمد اقبال،علامہ ،بال جبریل ،ایوب الیاس*زاهب بشیر پرینٹرز،فرخ پبلیشرز الکریم مارکیٹ اردو بازار لاہور*، ص،۱۸۱

29 ـ شیدا ،فضل الحق،*اسویلي،یونیورسټي بک ایجنسي،پېښور* ـ ۱۹۶۱ء ،مخ ۵۶

30 ساجدافان،*پشم،عکس پرنټر پریس بټخیله*،۲۰۱۹ء ،مخ۱۱۶

31 اسماعیل گوهر،" دري شاعراني،*دري قیصې*"*پښتو اکېډمي هزاره* (بفه) ،۲۰۲۰ء،مخ،۱۱۸

[32] http://www.suffahpk.com/nazar-or-mannat-ki-taref-or-mannat-ki-sharait/ dated 14 August 2020

[33]ساجد افغان،پشم،عکس پرنتر پریس بتخیله،۲۰۱۹ء،مخ،۵۰

[34] القرآن،سورت الدخان،۴۴،ایات،انه۱ ۴

[35]

[36] ــ د هنداونو یو مذهبي جشن دے،چې پکښې د شپې مختلف قسم رناګاني بلې کړې وي

[3737] ساجد افغان،پشم،عکس پرنتر پریس بتخیله،۲۰۱۹ء، مخ۴۶

[38] http://zahidrashdi.org/641........... dated 20 aug 2020

[3939]ساجد افغان،شرغشي،مل لائبریري بتخیله،۲۰۰۶ء، مخ۱۲۴

[40]القرآن،سورۃ العمران،ایت، ۹۷

[41]بخاری شریف، حدیث نمبر،۸

[42]،ایضاً،حدیث نمبر۱۵۲۱

[43] مشکوات شریف،حدیث،۲۵۵۹

[44] عبدالوافي،عبدالرحمن بابا،دیوان،(ترتیب،تصحیح)رحمن ګل پبلیشر محله جنګي عقب،قیصه خواني بازار پېښور،د چاپ کال نه لري،مخ،۵۳

[45]ساجد افغان،پشم،عکس پرنتر پریس بتخیله،۲۰۱۹ء،مخ۸۷

[46]ساجد افغان،شرغشي،مل لائبریري بتخیله،۲۰۰۶ء،مخ۶۱

[47]ساجد افغان،شرغشي،مل لائبریري بتخیله،۲۰۰۶ء، مخ۱۳۴

[4848] القرآن،سورۃ الکهف،۱۸،ایت،۱۱۰

[49]صحیح مسلم،الذهد والرقایق،باب الریاء،حدیث،۲۹۸۵

[50] مشکوات شریف،حدیث،۵۳۳۱

[51]ساجد افغان،شرغشي،مل لائبریري بتخیله،۲۰۰۶ء، مخ۶۷

[52] القرآن،سورت ، آل عمران،آیت،۱۱۰

[53] ساجد افغان ،پشم،عکس پرنتر پریس بتخیله،۲۰۱۹ء، مخ۱۱۸

[54] القرآن،سورۃ البقره،ایت،۲۷۷

[43] ساجدافغانّ، هائیکو کښې د منفي مذهبي کردارونو د طنز تجزیاتي څېړنه

---

[55] شېدا،فضل حق،"*اسویلي"یونیورستي بک ایجنسي پېښور*،د چاپ کال نه لري،مخ۱۸

[56] ساجدافغان ،*پشم،عکس پرنتر پریس بټخیله*،۲۰۱۹ء ،مخ۴۹

[57] هم دغه اثر،مخ۴۱

[58]عبدالوافي،،*عبدالرحمن بابا،دیوان*،(ترتیب،تصحیح)*رحمن ګل پبلیشر محله جنګي عقب،قیسه خواني بازار پېښور*،د چاپ کال نه لري،مخ،۱۶۲

[59] ساجدافغان،پشم،*عکس پرنتر پریس بټخیله*،۲۰۱۹ء،مخ۹۰

[60] هم دغه اثر،مخ،۸۰